**مطبوعاتي اعلامیه**

# نړیوال انلاین کنفرانس؛ «بیجېنګ + ۲۵: ایا د جنډر مساواتو نقاب لوېدلی؟»

# د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخې لخوا نیول کېږي

د ۲۰۲۰ ز کال د اپرېل پر څلورمه د حزب التحریر په مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو برخه په پام کې لري چې د «بیجېنګ + ۲۵: ایا د جنډر مساواتو نقاب لوېدلی؟» تر عنوان لاندې یو نړیوال انلاین کنفرانس ترسره کړي. په دغه کنفرانس کې به د فلسطین، ترکیې، اندونیزیا، تونس، استرالیا، لبنان او د انګلستان څخه د حزب التحریر ښځینه غړي خبرې وکړي او په انګلیسي، ترکي، عربي او اندونیزیایي ژبو به نړیوالو لیدونکو ته خپرې شي. دغه کنفرانس د هغه درې اونیز نړیوال کمپاین پایله ده چې د پراخه نړیوال ملاتړ څخه برخمن و.

۲۰۲۰ز کال، د بیجېنګ د اعلامیې او د عمل دریځ ۲۵مه کلیزه ده، چې د یو هر اړخیز سند په توګه د ملګرو ملتونو لخوا د ښځو په اړه په څلورم نړیوال کنفرانس کې چې د ۱۹۹۵ز کال د سپټمبر په میاشت کې د چین په بیجېنګ ښار کې ترسره شوی و، رامنځته شوه. دغه طرحه په نړیواله کچه د ښځو او نجونو د څواکمنتیا لپاره د یوې غوره لارې په توګه وستایل شوه. د دې طرحې موخه دا وه چې په نړیواله کچه د «جنډر د مساوات» له لارې د ژوند په ټولو اړخونو کې د ښځو په حقونو او د دوی په ژوند کې ښه والی راولي. دغه طرحه د اسلامي نړۍ د اکثریت هېوادونو په شمول د ۱۸۹ هېوادونو

لخوا تصویب شوه او ژمنه يې وکړه چې دغه طرحه به په خپلو هېوادونو کې پلې کوي. د تېرو څو لسیزو را پدېخوا د دې طرحې له لارې د «جندر مساوات» مفهوم او په نړیواله کچه په دغه برخه کې د ډېرو نورو تفاهم لیکونو شتون په ټولو هېوادونو کې پراخه وده کړې او نه یوازې دا چې د ښځو په تړاو د ډېرو ملي پالیسیو او قوانینو اساس جوړ شوی، بلکې تر ډېره حده د اسلام د ټولینزو او د کورني ژوند پورې تړلو احکامو د له منځه تللو سبب شوی دی. په نړیواله کچه د جندر د مساوات له لارې د ښځو د پیاوړتیا او پرمختګ موخې د بیجېنګ له دې طرحې او اقدام ۲۵ کاله وروسته هم نه مسلمانو ښځو او نه هم د نورو نړۍ ښځو ترلاسه کړې دي. حقیقت دا دی چې په ډېرو هېوادونو کې ښځې د تاوتریخوالي، بېوزلۍ، ناامنۍ، استثمار، جنسي قاچاق او ظلم سره مخ دي، د دې ترڅنګ زده کړو او روغتیایي اسانتیاوو ته نه لاسرسی د دوی لپاره یوه بله لویه ننګونه ده.

د جندر د مساوي کولو هڅې ښځې د نورو فشارونو او کړاوونو سره مخ کوي، دوی اړ باسي چې کار وکړي او خپلې کورنۍ ته ډوډۍ پیدا کړي. سربېره پردې د جندر مساوات د ښځې او مېړه ترمنځ د ستونزو د راپورته کېدلو سبب کېږي؛ ځکه جندر د مور په حیث د مېرمنې مسوولیت له پامه غورځوي او ښځې د خپلو ماشومانو د حقونو په اړه بې پروا کوي.

دغه مهم کنفرانس به د جندر مساواتو له لارې د ښځو د حقونو، هوساینې او د ملتونو د پرمختګ دروغجنې ادعاوې او حقیقتونه روښانه کړي. دغه کنفرانس به نه یوازې دا چې د ښځو د ژوند په ښه والي کې د جندر مساواتو او پالیسیو د ناکامۍ دلایل څرګند کړي، بلکې د دې ترڅنګ به د ښځو د ستونزو اصلي ایډیالوژیک علتونه په ډاګه کړي. په دغه کنفرانس کې به په پراخه کچه د جندر مساواتو او فیمینېزم موخې ته اشاره وشي او د مسلمانانو په خاوره کې د اسلامي ټولنیز او د کورنۍ د قوانینو د اصلاح او لغوه کولو په

موخه به د بیجېنګ د اعلامیې او د ښځو د حقوقو په نامه د نورو نړیوالو تړونونو موخې او اجنډاوې افشا شي. د دې ترځنګ به په سیمه کې د سېکولر دولتونو له هغو کړنو پرده پورته شي چې د دې طرحې د بشپړولو په ملاتړ ترسره کېږي او د ښځو، کورنۍ او ټولنې اړیکې زیانمنوي. په دغه کنفرانس کې به د دې اعلامیې په زیانونو او په ستراتېژیکو موخو لکه، زده کړه او د ښځو روزنه، ښځې او اقتصاد، ښځې او په وسله واله جګړه کې نیمګړتیاوې او ماتې روښانه کړي. تر ټولو مهمه دا چې دغه کنفرانس به په دغه اړه د اسلام او د نبوت د منهج پر بنسټ رامنځته شوی د هغې سیاسي سیستم «خلافت» د مفصلو اصولو یوه ځانګړې هر اړخیزه طرحه وړاندې کړي. دا طرحه په ټولنه کې د ښځو د رول او دریځ د لوړولو مفصل اصول، قوانین او ځانګړي هر اړخیز سیستمونه لري. دغه طرحه د ښځو حقوق خوندي کوي، له زیان څخه یې ژغوري او د دوی د ژوند د معیارونو لکه، په لوړ کیفیت سره زده کړې، روغتیایي پاملرنې او اسانتیاوو ته لاسرسی او په دولت کې د رینښتني پرمختګ د تر لاسه کولو تضمین کړي.

**دغه کنفرانس به د ۲۰۲۰ ز کال د مارچ په څلورمه مه د شنبې په ورځ د مدینې په وخت د سهار په ۱۱ بجو او د انګلستان په وخت سهار ۹ بجې پیل شي.**

**د کمپاین صفحه:** http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/hizbuttahrir/19097.html

**د فېسبوک صفحه:** www.facebook.com/WomenandShariah2

**د کنفرانس د خپرېدلو لینک:** https://youtu.be/2AU5-7j_ufI

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د څانګې رییسه**

**هجري قمري نېټه:** ۱۴۴۱هـ.ق کال، شعبان ۸ مه

**مېلادي نېټه:** ۲۰۲۰م کال، اپریل ۱ له

**د صدرو ګڼه: ۱۷/۱۴۴۱**